1,000,000

پوهنمل حاجی محمد نوزادي

09-03-2018

## پیام تبریکیه به مناسبت تجلیل از بازدید 1000,000 نفر در (AGO)

د دروند افغان ـ جرمن انلاین پورتال درنو مسؤولینو ته تر سلامونو وروسته :

مورږ ټول لوستي افغانان ( لیکوالان او لوستونکي ) پدي نازیږو چي ددغه پورتال غوندي د رسنیو سردار په خدمت کي لرو . هر سهار چي د خوب نه پاڅیږم ، تر هر وړاندي یو ځل د پورتال دروازه ټکوم او د نوو وړاندي شوو لیکنو سرلیکونه تر نظر تیروم .
دا کار یو روټین عمل گرځیدلی دی . مورږ پدي پورتال کي د وطنپالني یو ستر سمبول په خپل ذهن کي مجسم کولای شو . د داسی بریښناپاڼو په خلاف لکه اریایي او نور ، دلته د پر وطن مینو قلموالو ستره ټولنه پدی لګیا ده چي ځوانانو ته د خپلو وړاندي کړو لیکنو د لاري د وطنپرستی درس ورکړي .



زه هم دا ویاړ لرم چي نژدی د پیل د وخت نه تر اوسه پوري ددغه درانه پورتال سره قلمی همکاری لرم او خپل نظریات ددغي لاری وطنوالو ته رسوم .
پدي هم ویاړم چي د پورتال د لوستونکو شمیر ورخ تر بلي په ډیریدو دی . هیله ډیر ژر به د یوه میلیون رقم زیری واورم
د پورتال دا بریالیتوب ټولو کارکونکو ، قلمی همکارانو ، لوستونکو او فرهنګپالو افغانانو ته د زړه د کومی مبارکی وایم
دوستانو سرلوړی اوسئ او لا زیاتي بریاوي مو په برخه !

احترام